مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۵/۱۲

# د پوهنتون خاطرې

## (۲۲)




خوړنځای یې د مطعم په نوم یاداوه. بیخي لوی و؛ دومره لوی چې په یوه وخت پکې له ۱۰۰۰ ډېرو کسانو ډوډۍ خوړلی شوه.

مطعم دوه لویې دروازې درلودې. په اخر سر کې یې یو ټیټ دیوال و چې د پخلنځي او اشپزانو ځای یې جلا کړی و.

چې په دروازه به ور ننوتلو؛ نو منظم به په دوه کتارونو کې ودریدلو. ورو ورو به روان وو او بیا به د اشپزانو له مخې له لړ وقفې او خوړو اخیستلو وروسته داسې تیر شوو لکه د رسم گذشت مراسم چې ورته اجرا کوو .
زموږ نیکلي غوریو څو خانې درلودې؛ تیرو دورو کې لکه چې ټولې خانې په طعامونو ډکیدلې؛ خو زموږ دوره کې به یې ایله دوه خانې ډکې شوې. یوه کې وریژې او بله کې ورسره قورمه، یا دال. لوبیا او ښوروا یې کاسو کې راکوله.

د سه شنبې او پنجشنې په سهار راته حلوا حواله وه. د حلوا د نوم په اوریدو به ستاسو ذهن کې ملایان عبور او مرور کوي؛ خو باور وکړئ چې په کوم شوق موږ خوړله؛ بیان یې نشم کولای. حتا ځینو چې به خپله کاسه تشه کړه، مطعم ته له تازه داخل شویو محصلینو سره به یې بیا په کتار کې ځانونه مدغم کړل او له دې سره به خوړو ته ناستو ځینو محصلانو ورپسې چیغې کړې: دوه چانسه دی! خو هلک به د حلوا په جذبه کې داسې گرم راغلی و چې په دې غږونو یې هیڅ غوږ نه گراوه.

په هغه غرمه یې ډیره بې خونده لوبیا پخه کړې وه. زه پخلنځي ته نږدې دروازې ته مخامخ ناست وم. ډوډۍ مو خوړله چې دوه – درې کسان غلي راننوتل. یوه یې په پټو کې ښه سم ځان پیچلی و. شکي شوم او چې څنگه زموږ خواته د پښو پر سر کیناست؛ نو شک مې په یقین بدل شو. دې سړي، له هغه محصله چې دروازې ته یې شا وه، وپوښتل: ځوانه! څنگه ده ډوډۍ مو؟ ځوان، پرته له دې چې ور وگوري؛ ورته وې ویل: څه پوښتنې کوې، خپله یې وینې چې خړې اوبه دي! سړی موسک شو، پورته شو او بل کتار ته لاړ.

ما ویل: وهلکه، دا دې وپیژنده چې داسې گستاخانه ځواب دې ورکړ؟ هغه ویل نه، څه یې کوم، هر څوک چې و .
ما ویل خدای دې خوار نکا، استاد سیاف و. له دې سره هلک وارخطا شو؛ خو هیڅ کوم جنجال پېښ نشو. په استاد د خپل پوهنتون محصلان گران ول. په هغه ورځ په ټول مطعم وگرځیده او بیا همداسې غلی ووته.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ